مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۱/۰۴/۱۰

# د پاکستان دولتي ترهګرۍ په وړاندې د پښتون ژغورنې غورځنګ درې کلنې سوله ییزې مبارزې شننه او څېړنه

لومړۍ برخه

## سریزه:

چیرته چې د وګړو بنسټیز حقونه تر پوښو لاندې کیږي، هلته پاڅون یا مقاومت په وګړو باندې فرض کیږي. ولسي پاڅونې غورځنګونه تل د مظلومو ولسونو لخوا د متشدد، ډیکتاتوري، ظالم دولتي سیستم په پایله کې سر راپورته کوي. د مظلوم ولس یو ځو ویښ شعوري او د کلکې ارادې ککرۍ راپاځي، د ظلم استبدادي دولتي سیستم په وړاندې دریږي. نړۍ په دې ورستۍ لسیزه کې د سترو ولسي پاڅوني څپو شایده وه، په منځني ختیځ کې د عربو پسرلي پاڅوني څپې، د عراق، سوریې، مصر، الجزایر، لیبیا، سوډان، یمن، لبنان، ایران، هندوستان او ان له فرانسې څخه رانیولې بیا تر هانګ کانګ او چیلي هیواد پورې غزېدلي وې. په نوموړو هیوادونو کې پاڅونه ځېنې سوله ییز او ځینې له تاوتریخوالي ډک وو، ځینې له یو بل سره تړاو درلود او ځینې یې نه درلود. پاکستاني ترهګرپال، ډیکتاتور ظلم ریاست د نړیوالې سونامې پاڅوني څپو څخه مستثنا او معاف نه و. د پنجابي استعماري ریاست په وړاندې د پښتنو پاڅون، سوله ییزې مبارزې او انګیزې د انګرېزي نړیوال کولونیالیستي سیستم په وړاندې د پښتنو حماسي تاریخ بیا را ژوندی کړي دی.

له تېرو دریو کلونو راهیسې په لر او بر افغان وطن کې د ظالم پنجابي یرغلګرو پوځیانو خلاف د ویښو شعوري او د کلکې ارادې پښتنو ځوانانو یو ستر ملي سوله ییز خوځښت د پښتون ژغورنې غورځنګ (پې ټې ایم) په نامه پیل شوي دی. په دغه سوله پال او د جګړې ضد ولسي غورځنګ کې د افغانستان او پښتونخوا سربیره د ګردی نړۍ روښاندې پښتانه افغانان پرته له قبیلوي، ګوندي، ایډیالوجیکي توپیرونو او خپلمنځي فکري اختلافاتو په دې توانیدلي دي، څو د پنجابي پوځي استبلیشمنټ ظالمونو په وړاندې د ترسره شویو بېشمرو ظلمونو، بې عدالتیو او بې انصافیو په وړاندې په یو ملي ولسي صف یا یوه پلټفورم کې د خپل پښتنې احساس او مسوولیت له مخې یو ځای اوږه په اوږه سره ودریږي. د لرو برو پښتنو افغانانو دغه نوی شعوري ویښ ملي خوځښت د پښتونولۍ د مقاومت په کوډکسونو یا شفرونو کې سر را پورته کړي دی. پې ټې ایم د پښتنو له ویاړونو ډک لرغوني تاریخ او د پښتنو ملي احساس بیا راتازه کړي دی. د پښتون افغان ولس نننۍ استراري خونړۍ جګړییزه وضعیت د نړیوالو زبرځواکونو د لاسوهنو او یو شمیر استعماري بدمرغو تاریخي ناروا پیښو او پرېکړو کې هم خپلې ریښې لري. د نړیوالو زبر ځواکو ښکېلاکګرو دغه ناوړې استعماري پرېکړې د دې لامل شوې، څو د پنجابي پوځي استبلیشمنټ ستراتجیکو پالیسیو او پلانونو کې د پښتون افغان ولس په وړاندې په سیستماتیک ډول توکم وژنه او د ترهګرۍ ټولې کرغېړنې بڼې ترسره کړي او له پښتنو سره په پرله پیسې توګه له خونړیو ناورینو ډک تبعیضي چلند وکړي.

په ۲۰۱۸ کال کې د جنوري په ۱۳ نېټه په کراچۍ کې د پولیسو سره په یوه جعلي نښته کې د لوی وزیرستان څلور ځوانان ووژل شول. په دې څلورو وژل شویو ځوانانو کې یو شهید نقیب الله محسود و، کله چې د شهیدانو جنازې سویلي وزیرستان ته راوړل شوې. د دې بې ګناه وژنو په وړاندې د آزادو قبایلي ځوانانو غوسه راوپاریدله او سخت غبرګون وښود. له همدې شیبې ورسته د پښتون ژغورنې غورځنګ د پښو تګ په مزل کې پیل شو او ورځ تر بلې د خپلو سترو ولسي پرلتونو، لاریونونو او احتجاجونو سیلابونه پیل کړل. د بې ګناه نقیب الله محسود وژنه د پې ټې ایم د پیداېښت لامل وګرځید. د لوی وزیرستان ننګیالي ځوانان د څو لسیزو راهیسې پر پښتنو او په پښتنه ټولنې کې د ټولو ناروا ظلمونو په وړاندې راپاڅیدل، کوم چې د اوویا کلونو راهیسې د مظلومو پښتنو په ضد د ظالم پنجابي پوځي استبلیشمنټ د ژورې ستراتېجکي پالیسیو له مخې په افغانستان، پښتونخوا او قبایلي سیمو کې ترسره کیدل.

## د پښتون ژغورنې غورځنګ د پیداېښت تاریخي لاملونه:

د هندوستان او افغانستان په خاوره کې د پاکستاني مصنوعي دولت جوړیدلو راهیسې او د پې ټې ایم له پیداېښت مخکې په لره او بره پښتنه ټولنه کې د پښتنو ترمنځ د ملي یووالي او ملتپالنې پیاوړي احساسات په خپل ټول قوت سره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شتون درلود. د پښتون افغان ملت ترمنځ د تاریخي، توکمي، ژبني او کولتوري اړیکو برسیره په سیمه کې د یو جعلي متجانس هیواد رامنځته کیدو په وړاندې افغان شاهي دولتونو، جمهور دولتمشرانو، ټولو لرو برو ملي سیاسي ګوندونو او قومي ملي مشرانو په پرلپسي توګه د لوی افغانستان د بیا جوړیدو لپاره مبارزه کړې ده. د خپل پلرني تاریخي هیواد د بیرته اعادې په دې سپیڅلې لار کې ټولو ریښتینو لرو برو افغانانو خپلې مبارزې جاري ساتلې دي. ټول په دې پوهیږي، چې د پښتون پښتون ترمنځ د ډیورنډ غیر قانوني، غیر فطري او استعماري توري کرښې په ټولیدو سره د لوی پښتونخوا سیمه له خپل پلارني تاریخي هیواد افغانستان سره بیرته یو ځای کیدلو سره په نړیوال اطلس کې ,,احمد شاهي جغرافیه,, بیرته را ژوندی کیږي.
له همدې امله پنجابي پوځي استبلیشمنټ په پښتونخوا کې هر خپلواک ملتپال پښتني سیاسي خوځښت ته نه یوازې د یو ستر ګواښ په توګه کتلې، بلکې هر پښتون چې کله د خپلو حقونو پوښتنه کړې ده، په هغه باندې د غداری ټاپه لګولې ده، دغه ویش پښتانه یې بندیان کړي او وژلي دي. په همدې پلمو او تکتیکونو یې تل د ویښو ملتپالو پښتنو ملي غورځنګونو د لمنځه وړلو هڅې کړې دي. څو د لوی افغانستان د جوړیدو مخه یې نیولې وي. د پنجاب پوځي استبلیشمنټ ستراتیجیستانو د پي ټي ایم پاڅون او د پښتنو ملتپالني شعوري ملي مبارزې ته د چټک پرمختګ په حال کې د پاکستان پاشل کیدو یا ټوټه ټوټه کیدو بهیر کې د یوې بالقوه متحرک پیاوړي ځواک په توګه ګوري.
د نولسو اوویایمو کلونو په پای کې د پخواني شوري اتحاد پر وړاندې د افغان جهاد د پیل سره سم د ډیورنډ کرښې په دواړو خواوو کې د افغان دولتي واک او د افغان دولت ملي حاکمیت خلا یا تشه رامنځ ته شوه، له همدې امله د ډیورنډ کرښې په دواړه خواو کې د پنجابي پوځیانو تر څارنې لاندې د نړیوالې ترهګرۍ ځالو لپاره پټنځایونه رامنځ ته شول او په نیمه خپلواکه قبایلي سیمه کې د ترهګري ضد جګړې تر نامه لاندې د پنجابي پوځیانو لخوا د پښتنو د ملتپالنې انګیزې او د پښتنو ملي قبایلي ځواک د لمنځه وړلو په موخه د پښتنو په سیمو کې د خپلو ستراتیجکو پلانونو له مخې خونړۍ ویجاړونکې جګړییز پوځي عملیات پیل کړل. همدارنګه لوی وزیرستان یې د افغانستان د وړانولو لپاره د یوې ډبرینه مرچې او پټنځای په توګه کارولو.
د یوولسم سپټمبر د پیښې راهیسې د ډیورنډ استعماري کرښه کله چې د طالبانو غورځنګ مشران او د القاعدې ډلې غړي پر افغانستان باندې د امریکایي او ناټو ځواکونو د یرغل په ترڅ کې تیښتې ته مجبور کړل شول، د پنجاب پوځي ستراتیجکې ژورې پالیسي ته بیا یو بل ډیر ښه چانس په لاس ورغې. پاکستاني منافقو پوځیانو د خپلو شومو ناکامو پالیسیو او د سقوط سره مخامخ پاکستان د ژغورلو په موخو نړیوال ترهګر او ګوډ او بد طالبان په قبایلي سیمو کې د خپلو ناروا پالیسیو په چوکاټ کې وساتل، وروزل او په وسلو سمبال کړل او لوی وزیرستان یې د کابل او پیښور د ویشتولو لپاره د ترهګرو په مرکز بدل کړو، همدغه روزل شوي ترهګر یې ډله ډله د افغان وژنې او د افغانستان بې ثباته کولو لپاره استول.
هممهاله پاکستاني پوځیانو په خپلواکه قبایلي سیمه یا لوی وزیرستان کې د ترهګري ضد جګړې تر نامه لاندې یو شمېر پوځي خونړي عملیات د مېشتو قبایلو د ځپلو لپاره په بېلا بېلو نومونو پیل کړل. له دې سره د پاکستاني یرغلګرو پوځیانو لخوا په ټوله پښتونخوا کې د پښتنو په وړاندې د یوه تباه کونکي جنګ اور بل شو. پنجابي پوځیانو د خپلو پلان شویو پالیسیو او ظالمانه خونړیو عملیاتو په ترڅ کې په زرګونه بې ګناه قبایلي پښتانه په ډله ییزه توګه ووژل، په زرګونه ژوندي ورک او ترۍ تم کړل، په میلیونونه له خپلو کورونو او سیمو څخه په اجباري توګه بې ځایه کړل، ځینې افغانستان ته کډوال کړل، پښتنې درنې ښځې بې عزته شولې، ښارونه، بازارونه، مارکیټونه او ښوونځي قصدا وران او ویجاړ کړل شول. پاکستاني پوځیانو په امریکایي ایف شپاړلس جیټ جنګي الوتکو د پښتنو په سیمو او کورونو بې رحمانه بمباري وکړې.
د دې ټولو ظلمونو او بربادیو په پایله کې د پښتون ژغورني غورځنګ ځوانان په یوه بیساري زړورتیا کې د پنجابي ظالم یرغلګر پوځیانو په وړاندې په ډګر راپاځیدل او د پاکستاني تور پوځیانو څخه تور اسلامي نقاب لیرې کړو او د پنجابي یرغلګر پوځیان، مېجران او جنرالان په لومړي ځل سخت وننګاول.
پاکستاني پوځي استبلیشمنټ د نړیوالې ترهګرۍ ضد جګړې په پلمه خپل اتیا زره کسیزه پوځ هغه مهال نیمه خپلواک قبایلي سیمو ته وردننه کړي و، کله چې په امریکا کې د جنرال پرویز مشرف په وړاندیز لکه څنګه د اسرائیلو ولسمشر شارون په فلسطیني خاوره کې د کانکریټي دیوال جوړولو چارې پیل کړې وې، همدا ډول جنرال مشرف د ډیورنډ پر کرښه د ازغن تار غځولو پلان طرحه کړو.
که څه هم پنجابي پوځي استبلیشمنټ په دې پوهیدو، تر څو یو پښتون افغان ژوندی وي، د دوی دغه اغزن خوب به هیڅکله ترسره نشي. له دې سره پنجابي استبلیشمنټ په ډیره سپین سترګې خپله زړه ژورې پالیسي پلې کړه. له همدې امله د پښتون افغان ولس په ویښو ځوانانو کې د ملي یووالی ولولو یو شور او جوش پیدا شو، د دوی پښتني ننګ او غیرت احساسات راوپاریدل.
نړیوال سیاستوال او نړیواله ټولنه ښه پوهیږي، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د نړیوالو قوانینو له مخې هیڅ کومه نړیواله رسمي پوله نشته او افغان دولتونو هیڅکله د ډیورنډ توره کرښه په رسمیت نه ده پیژندلې. د همدې استعماري غیر فطري کرښې په وړاندې لرو برو پښتنو د لومړۍ ورځې څخه تر ننه احتجاجونه او پاڅونونه کړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پنجابي استبلیشمنټ د اغزن تار په غځولو سره غواړي، د پښتونخوا او قبایلي سیمو مشرانو ملي تاریخي یووالي، نه هیریدونکي، نه ماتیدونکي او نه تسلیمیدونکي اراده ماته کړي، څو د یو پیاوړي پښتون افغان ملي دولت مخه ونیول شي. له همدې امله پنجابي استبلیشمنټ تل د خپل دورغجن مکار اسلامی نقاب اغوستلو سره تل د پښتنو د ملتپالنې، هیواد پالنې، د ملي یووالي، تاریخي ملي خپلواکې غوښوونکو غورځنګونو ملي احساسات او د یووالې ارادې په اسلامي بې نامه او بې نښانه او بې بنیاده احساساتي کانالونو کې راتیټ یا پڅ کړي. د پنجابي پوځیانو لخوا د پښتنو همدا ملي تاریخي احساسات تر ډیره بریده په ډیره ځیرکتیا سره په همدې تورو اسلامي سختدریځه کانالونو کې ویشل او نستل کیږي، څو د کرښې په دواړو خواو کې د پښتنو افغانانو خپلواکۍ او د بیرته یووالي د نشنلیزم ویښ ځواک وځپل شي.
له همدې امله پاکستان تل په افغانستان کې په سیاسي او اقتصادي برخه کې یو کمزورۍ او په خپلو کورنیو چارو کې بوخت او په کابل کې د دوی پلوي لاسپوڅې حکومت غوښتلي دی. پنجابي استبلیشمنټ په کابل کې هغه پښتانه په واک کې غواړي، کوم چې د دوی لخوا روزلي شوي دي. له یوې خوا دوی به د خپل زورو مشر ورور هندوستان څخه په افغانستان کې ارامه وي او له بلې خوا پاکستان پرته له افغانستانه په سیمه کې منضوي او په محاصره کې یو هیواد دی او منځنۍ اسیا ته د خپلو تولیداتو سوداګرۍ لاره پرانیستلو په لټه کې دی. پاکستاني ستراتېجستان هڅه کوي، د دې کړکیچ د کنټرول لپاره په یوه غشه دوې موخې په نښه کړي، په یوه لاس د ډیورنډ کړکیچ او د پښتنو پر بنسټپالو اغیز او په بل لاس د کشمیر لانجې او اټومې وسلو کړکیچ له هند سره کنټرول کړي.
د پي ټي ایم له پیداښت سره سم وسمهال پاکستاني پوځي استبلیشمنټ ته دا ډیره ګرانه شوي ده، څو د خپلو ستراتېجکو پالیسیو بېلانس وساتلي شي. په نړۍ کې پاکستان له پیداښته د جنګ، جګړو، جبهو، کړکېچونو، په بې وزلو پښتنو کې د سختدریځي فکر خپرولو او په سیمه کې یو ترهګرپال دولت پیژندل شوي دی. د هند سره په کشمیر کې د لاین افکنټرول یا د کشمیر لانجه او له افغانستان سره د ډیورنډ لاین مسئله کې را ګیر دی. که څه هم افغانستان څلور لسیزې د جنګ جګړو په خونړیو ناورینونو کې تیر کړل، خو پاکستاني پوځي استبلیشمنټ په دې ونه توانید، څو د ډیورنډ لاین مسئله په خپله ګټه حل کړي.

## د پي ټي ایم د مقاومت او مبارزې ستراتېجۍ:

د پښتون ژغورنې غورځنګ مشران او ملاتړې د عدم تشدد لارویان دي. خو د پاچا خان د عدم تشدد فلسفي په څیر فکر نه لري. که څه هم پي ټي ایم تر اوسه د عدم تشدد لاره خپله کړي ده، خو د سبا په اړه څوک نه پوهیږي. پي ټي ایم پښتون ته امن، یووالۍ او خپلواکۍ غواړي. وسمهال پي ټي ایم یوه پښتونخوا له چمن څخه تر چتراله پورې غزیدلي غواړي. پي ټي ایم ټولې پښتني سیمې په یوه واحد کې سره متحدې کول غواړي او تر خپل پوښښ لاندې راوستل غواړي. له همدې امله پي ټي ایم د خپلې مقاومتي او مذاحمتي سوله ییزې مبارزې ستراتېجي په بنسټ په لرو او برو پښتنو افغانانو کې پاخونې ځپې پیل کړي دي. د پښتون ژغورنې غورځنګ سیاسي ګونډ نه دی. پي ټي ایم یو پارلماني ګونډ هم دی. پي ټي ایم د خپل تصویب شوي آئین له مخې یو غیر پارلماني تحریک دی او یوه مذاحمتي ولسي مبارزه پرمخ بیایي. پي ټي ایم د همدې دواړو ځانګړو ځانګړتیاو له امله په لر او برو پښتنو کې یو ګډ سوله ییز ولسي غورځنګ پیژندل شوي.
د مشر منظور احمد پښتین په مشرۍ کې دغه غیر پارلماني او مذاحمتي ولسي تحریک د لرو او بر پښتنو افغانانو له هر اړخېز ملاتړ څخه برخمن شوي دی. د پښتون ژغورنې غورځنګ ځوان کرېسماتیک مشر په ډیره لږه موده کې په دې وتوانید، څو پرته له تاوتریخوالي پي ټي ایم په لر او بر پښتنو افغانانو کې په یوه ځواکمن مذاحمتي ولسي غورځنګ باندې بدل کړي. دا پښتنې ځوځښت د همدې ځوان مشر تر لارښوونو لاندې نه یوازې د پاکستان په سترو ښارونو کې ستر ولسي احتجاجي لاریونونه ترسره کړل، بلکې د افغانستان سربیره په اسیایي، اروپایي هیوادونو کې تر امریکا او استرالیا پورې پښتانه افغانان د پي ټي ایم د قانوني غوښتنو لپاره په یوه سوله ییزو پلټفورم کې په منظمو لاریونونو او احتجاجونو کې تنظیم کړل.
د غورځنګ مشر د یو داسې ځوان نسل مشري او استازیتوب کوي، کوم چې یوازې د ترهګرو او پنجابي پوځیانو لخوا له کړکیچونو ډک انارشیزم، جنګ جګړې او وژنې پیژنې. وسمهال دغه ویښ ځوان پښتون نسل نور نه غواړي، چې د راتلونکی لپاره یو نا څرګند برخلیک ولري. د غورځنک بنسټګر ویټنر ډاکټر د نړیوالې ټولنې او د بشري حقونو سازمانو پام دې ته هم راړولي دی، چې دلته د ترهګرۍ ضد جګړه نشته، بلکې دلته یوازې د پنجابي پوځیانو لخوا د پښتنو په خاوره کې د پښتنو په ضد یوه پلان شوي دولتي ترهګري روانه ده. دلته د ترهګرۍ پر ضد جګړه د امریکایې پوځیانو په ملاتړ د پاکستاني ریاست جګړه د پښتنو په ضد جګړه ده.
د پي ټي ایم مشر وایې، که څه هم په تېرو شلو کلونو کې پر پښتنو هر ډول ظلم او تېرې شوي، خو بیا هم د پښتون ولس د تشدد خلاف پاتې شوي دی او څوک یې نه دي وژلي. د پاکستان حکومت او پوځیان هغه پښتانه کوم چې د تشدد او دولتي ترهګري خلاف غږ پورته کوي، هغه ترهګر بولي او هغه خلک کوم چې پر پښتنو تشدد کوي، پاک او سپېڅلي بولي. په لر او بر افغان وطن کې په لکونو پښتانه ووژل شول، څوک چې ووژل شي، هغه ته ترهګر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وويل کيږي. څوک چې وژنې کوي، هغه ته ترهګر نه وي، پښتانه ترهګر نه دي، بلکې پښتانه د ترهګرې متاثرين يا قربانيان دي.

د څو لسيزو راهيسې د ډيورنډ کرښې په دواړه خواوو کې د ترهګرۍ ضد جګړې تر نامه لاندې د پښتون افغان وژنه، خونړۍ غمېزې او يو په بل پسې تباکوونکي چاوديدونکی سياسي او ټولنيز ناورينونه راوان دي.

پې ټې ايم په خپله مذاحمتي ستراتيجۍ کې نه يوازې د پاکستاني پوليسو وحشت او بربريت ننګولي دی، بلکې ډيفکتو د پاکستاني دولت غاصبګر او قبضګر پوځي استبليشمنټ باندې سخت ګوزارونه او تورونه لګولي او په وړاندې قانوني دعوا لري، چې دلته د پښتنو په خاوره کې د پښتون وژنې لپاره جګړييزې پروژې او پوځي استعماري منصوبې پلې کوي.

پې ټې ايم په ريښتينې مانا سره نه يوازې د ظالم پوځ استعماري سياست تر پوښتنې لاندې راوستلي دی، بلکې پوځ تورنوي، چې ترهګرې تمويلوي، د ترهګرو سره لوجيستيکي ګډه همکاري کوي او د ترهګرو ساتنه کوي. پنجابي پوځيانو همدغه روزل شوي ترهګر د خپلو استعماري ګټو لپاره کاروي. د پې ټې ايم له موخو څخه د پښتنو ولسي ملاتړ د پاکستاني پوځ هيژمونې پاليسي ته يو ستر ګواښ رامنځ ته کړي دی. له همدې کبله پې ټې ايم د پاکستاني پوځيانو په سترګه کې يو اغزی ليدل کيږي.

## د پښتون ژغورنې غورځنګ قانوني غوښتنې:

د پې ټې ايم ځينې قانوني غوښتنې په خپل نوی تصويب شوي آئين کې ليکلې دي، لکه په لوی وزيرستان کې چيک پوسټونو ختمول، په امنيتي پوستو کې د پښتنو سپکاوې ختمول او د ځايي خلکو سره د پاکستاني پوځيانو ظلمونو او ناجايزه چلند بندول، د حقيقت موندنې يو کميسيون جوړيدل، د ترې تم شويو پښتنو خوشې کول، عدالت يا محکمې ته وړاندې کول، په پښتنې قبايلې سيمو کې د ماينونو پاکول، د زيامن شويو خلکو تاوان ورکول، د عدالت پلې کولو لپاره يو خپلواک کميسيون جوړول او د شهيد نقيب الله مسيد قاتل پوليسو افسر ته سزا ورکړل، د پاکستاني پوځيانو صحرايې محکمو ختمول يا د محکمې له امره پرته د بې ګناه خلکو وژل او بنديانيدل، د انګريزې استعمار څخه په ميراث کې ور پاتې شوي د سرحدي جرمونو د (ايف سي ار) تور قانون لغوه کول، د ډله ييزو سزاګانې ختميدل، د پوځ غير قانوني بې ځايه قبضې ختميدل، د بلاک شويو پيژند پاڼو مسئله حل کول، د جګړه ځپلو سېمو د املاکو د تباهي تاوان ورکول، د پښتنو سره امتيازي سلوک بنديدل، په چيک پوسټونو باندې غير انساني رويې ختميدل، د ترهګرو رياستي ملاتړ او مرستې ختميدل او لر او بر وطن کې سوله امن راتلل دي.

د پې ټې ايم د مشرتابه له لوري په پيل کې پر پاکستاني پوځي واکدارانو باندې فشارونه تر دې حده لوړ شول، چې پاکستاني پوځيانو د غورځنګ ځينو غوښتنو ته د غاړې ايښودلو اعلان هم وکړو. هوکړه په دې وشوه، چې په قبايلي سيمو کې به ګرځبنديزونه يا کرفيو نه لګيږي، د ورک شويو خلکو د موندلو يوه ميکانيزم جوړولو ژمنه وشوه. دغه دورغجنې ژمنې تر ننه نه دي عملي شوي.

هممهاله پنجابي پوځيانو په خپله بد ترينه پښتون دښمنه ناکامه زړه ستراتېجکه پاليسي باندې لاس پورې کړو، کوم چې د پوځيانو لخوا د پاکستان د اوسني کينول شوي منېجر صدراعظم لخوا په کال ۲۰۱۸ کال د مې مياشتې په ۲۸ مه نېټه يوه ځانګړې مقرره لاسليک کړل شوه، د دې مقررې له مخې په قبايلي سيمه فاټا کې د ايف سي ار تور قانون لغوه کيدولو سره د يوې عبوري مودې لپاره په قبايلي سيمه کې د موقتي دولتي حاکميت مقررات وضع کيدل. د دې مقررې له مخې قبايلي سيمه د دوو کالونو په موده کې د همدې موقتي ادارې لخوا اداره کيږي او بيا به ازاده قبايلي سيمه د خيبر پښتونخوا له ايالت سره يو ځای کيږي.

هممهاله پاکستاني پوځيانو په خپلسر د خپلې ستراتېجکې ژور پاليسې له مخې د ډيورنډ کرښې په صفري نقطعه کې د اغزن تار په غزولو باندې لاس پورې کړو.

د دې پښتون دښمنه پاليسې له مخې د مظلومو قبايلي پښتنو په ضد د پنجابي پوځيانو يوه عجيبه غريبه ډيره سپين سترګې منافقه پاليسې پيل شوه. پوځي استبليشمنټ د همدې نوي موقتي يا انتقالي ادارې اقدامات او مقررات واک په سيمه کې مخکې له مخکې ځاي په ځای کړل شويو مليشايي امنيتي او نيمه پوځي ځواکونو ته ورکړي و، له دې مقررې مخکې همدې ځواکونو د قانون خلاف يا نا قانونه ترهګريزه فعاليتونه د امن لښکر يا د ګوډ طالبانو په نامه تر سره کول، په ټولنيزو رسنيو کې ويډيو ګانې شتون لري، چې د پنجابي پوځيانو او د اې اس اې په دستور تنکي ملکې قبائيلي ځوانان په قطارونو کې د وژلو لپاره درول کيږي او د پښتون دښمنه پوځيانو لخوا په خپلسر د صحرايې محکمو په ترڅ کې پرې مخامخ ډزې کيږي او وژل کيږي. پنجابي پوځي استبليشمنټ په سيمه کې خپلو اجرتي قاتلينو ته واک او صلاحيت ورسپارلي دی. وسمهال خپلواکه قبايلي سيمه تر پخوا نوره څو چنده په بدترينه امنيتي وضعيت کې ده.

## د پې ټې ايم ويښې شعورې مبارزې لاسته راوړنې او ګټې:

د پې ټې ايم تر ټولو لويه لاسته راوړنه مظلومو پښتنو ته جرئت او زړه ورکول، پښتنو ته يې ژبه وکړه، پښتون ته د خپل قام د قاتل نوم اخيستلو توان او ځواک وربښلو. پښتون قام ته خپل دومخي منافق مکار دوښمن ور په ګوته کړو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د پي ټي ايم د راپورته کېدو سره سم د لر او برو پښتنو افغانانو د يووالي او خپلواکۍ غږ لا نوره وچت او نړيوال شو. دا چې چا پښتانه ووژل، د چا دلاسه تار په تار دي، پي ټي ايم هغه خلک را ښکاره کړل او د چا چې پيداور دي، هغه يې راښکاره کړل. همدارنګه پي ټي ايم د يرغلګر پنجابي پوځي استبليشمنټ دومخي پښتون ضد زړه پاليسي له ستر ګواښ سره مخامخ کړي. د پي ټي ايم تر ټولو لويه لاسته راوړنه دا ده، چې په شعوري توګه په زرګونه پښتانه ځوانان د ترهګرېزو فعاليتونو څخه سوله ييز ژوند ته راوګرځولي دي.
د پښتون ژغورني غورځنګ ليکو ته د لر او بر پښتنو افغانانو سوله پالو ځوانانوسيلابونه رامات شول. دغه پښتني خوځښت په لرو برو پښتنو افغانانو کې او په ټوله نړۍ کې يو دم خورا مشهور کيدلو سره د سيمي او نړيوالو چارو ډېرو څېړونکو او شنونکو داسي وړاندويني کولې، چې دا غورځنګ به په يوه سياسي ګوند بدل شي.
دا په داسي حال کې چې په ۲۰۱۸ کال کې د پي ټي ايم مخکښ مشران علي وزير او محسن داوړ د پاکستان ولسي جرګې ته د خپلواکو نوماندانو په توګه ولاړل. دواړو مشرانو د ولسي جرګې ټاکنې د پي ټي ايم د مخکښو مشرانو په نامه ګټلي دي.
کله چې پي ټي ايم د پاکستان په تاريخ کې په لومړي ځل په پوځ باندې مخامخ سختي نيوکي وکړې او د ظلمونه او د ناروا کړنو څخه پرده پورته کړه، په ناڅاپي توګه غورځنګ کې د يوې مودې لپاره خاموشي يا سوړوالي راغلي. د پي ټي ايم په لاريونونو کې د لاريونوالو لخوا شعار ورکول کيدلو،، يه جو دهيشت ګردی هی، ايس کی پيچی وردی هی،، مانا، د دې ټولو ترهګريو تر شا يونفورم لرونکي پوځ دی، همدارنګه د لر او بر يو افغان د شعارونو په کارولو سره پاکستاني پوځ جنرالان ډېر سخت په قهرېدل، پوځيان د ځبنتو ډېرو وارخطايی له امله پر پي ټي ايم بې بنسټه تورونه پورې کړل، چې ګواکې پي ټي ايم د بهرني ځواکونو لخوا د يوې وسيلې يا الې په توګه د پوځ ضد کارول کيږي. د عمران حکومت واک نامالومو دی، ځکه تر شا پوځيان ولاړ دي، د هغه حکومت تر اوسه د پي ټي ايم غوښتنو ته هيڅ ډول پاملرنه نه ده کړي. تر اوسه پاکستاني حکومت د پښتون ژغورني غورځنګ قانوني غوښتنو ته عملاً هيڅ ځواب نه دی ورکړي.

## د پوځ لخوا پاکستاني ميډيا کې د پي ټي ايم مشرانو خلاف پروپاګنډ او بنديزونه:

د عمران خان حکومت، پاکستاني پوځيانو، د اي اس اي استخباراتي شبکې مامورينو او د دوی لاسپوڅو رسنيو له يوې خوا پي ټي ايم په بهرني ملاتړ باندې تورنوي، همدارنګه د افغانستان د استخباراتي ادارو څخه د مالي مرستو په اخيستلو تورنوي، له بلې خوا د دې پښتني ولسي ستر خوځښت سياسي فعاليتونه او مبارزې خبرونه په پاکستاني رسنيو کې په بيساري توګه سانسوريږي. په پاکستان کې له سره د بيان ازادی هيڅ نشته، خلک خپل ازاد نظر نشي بيانولي، پاکستاني ميډيا کې پرته له سانسوره بل هيڅ څه نه خپريږي. په پاکستاني رسنيو کې په پراخه ډول د پي ټي ايم په ضد ناوړه پروپاګنډونه او تبليغات خپريږي. پاکستاني ميډيا لويه برخه د پوځيانو او اي اس اي تر فشار لاندې ده او د پي ټي ايم او د پښتنو د يووالي خلاف خپروني کوي.
د پاکستان د ټلويزيوني او ورځپانو خبريالانو په حواله، دوی د پي ټي ايم د مشرانو د ويناو او لاريونونو خبرونو په خپرولو کې له سختو بنديزونو سره مخامخ دي. د همدې ليکنې په بهير کې د اروپايي ټولنې او نورو غير دولتي ادارو په يوه ګډ راپور کې ويلي شوي دي، چې پاکستان د خبريالانو او رسنوالو لپاره د نړۍ يو خطرناکه هيواد دی، تير کال هلته ډېر خبريالانو وژلي شوي دي.
د پاکستاني رياستي ادارې د پي ټي ايم پلويان ځوروي، په ناروا مقدمو کې بنديانوي او په محاکمو کې له خپلو قانوني حقونو څخه محرومه ساتل کيږي. پاکستاني محاکم او عدالتونه خپلواک نه دي، قاضيان خپلې پريکړې د امنيتي او استخباراتي ادارو د اوامرو مطابق ترسره کوي. پاکستاني رياست د دې کړنو له لارې د پي ټي ايم پلويانو په ضد سياسي او انتقامي چلند کوي او د خپلو مخالفينو په ضد جعلي سياسي او بې بنسټه جنايي مقدمې جوړوي.
پاکستاني رياست او جاسوسي اداري د محاکمو او عدالتونو په چارو کې لاسوهني کوي. د بيلګې په ډول که څه هم د علي وزير ضمانت د درخواست اورېدنه شوي ده، خو بيا هم د کراچي عدالت د علی وزير د ضمانت پرېکړه محفوظه ساتلې ده. د دې مهمې عدالتي ضمانتي پرېکړې محفوظول يا ځنډول د پاکستان امنيتي او استخباراتي ادارو اوامرو ته يا شني اشارې ته په انتظار کې ده.
پاکستاني پوځي رژيم پر دولتي او ازادو رسنيو باندې سخت بنديزونه لګولي دي. هممهال پاکستان کې د بيان په ازادی باندې جدي بنديزونه لګيدلي شوي دي. پوځيانو د پي ټي ايم مشران د ممنوالخروج په ليسټ کې ونيولي دي، دوی نشي کولي ان په پاکستان کې په ازاده توګه له يوې صوبې څخه بلې ته تګ راتګ وکړي. په دې ورستيو کې له بلوڅستانه د غورځنګ مشر منظور پښتين، علي وزير، محسن داوړ او ثنا عجاز وايستل شول او بنديزونه پرې لګول شول، دوی د هيواد څخه بهر په خپلو کولتوري، ادبي محفلونو او ولسي جشنونو کې برخه اخيستلي هم نشي. پنجابي پوځيان او د پاکستاني حکومت هڅه کوي، خو به هر ډول چې وي، د پي ټي ايم مشرانو خوله ور بند کړي. د پاکستان په ولسي جرګه کې د پي ټي ايم منتخبو غړو ته د خبرو وخت نه ورکول کيږي، کله چې وخت وکړل شي، د دوی مايکرفون د نامالومو کسانو لخوا بند کړل شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

نن پې ټي ایم په توله نړۍ کې د سوله ییزې مبارزې او له تاوتریخوالي پرته لاریونونو ترسره کولو سره د پښتنو د عدم تشدد یو بېساري ولسي غورځنګ پېژندل شوي دی. پې ټي ایم د نړیوالو رسنیو، نړیوالو بشري حقوقونو سازمانونو پام ځانته راړولوي دی. که څه هم پوځي استبلیشمنټ له یوې خوا په پاکستاني رسنیو باندې د پې ټي ایم خبر جوړونکي لاریونو باندې سخت بندېزونه لګولي دي، له بلې خوا د پې ټي ایم په ضد او د پې ټي ایم مخالفو کړیو ته په پاکستاني رسنیو کې پراخ ځای ورکول کیږي.
خو د دې برعکس د پې ټي ایم بر حقه مبارزې خبرونه په نړیوالو ازادو رسنیو او ټولنیزو رسنیو کې په پوره تفصیل سره خپرېږي. له همدې امله د پې ټي ایم مشران دې ته وهڅېدل، څو خپل لاریونونه او سوله ییزه مبارزې لا نوره منظمې کړي او خپلې غوښتنې رسماً په پرلتونو او مطبوعاتي کنفرانسونو کې په ډګر بیان کړي.
د پاکستاني امنیتي ادارو، د ظالمو پوځیانو خنډونو او ګواښونو سره سره پې ټي ایم خپل ستر ولسي لاریونونه د پاکستان په ټولو سترو ښارونو کې پرته له تاوتریخوالي تر سره کړل. که څه هم د پنجابي واکدارانو او پوځي استبلیشمنټ ستراتېجیستانو تر کنټرول لاندې رسنیو کې د پې ټي ایم په سیاسي فعالیتونو، احتجاجونو، لاریونو خبرونو او راپورونو خپرولو باندې سخت بنددیزونه لګولي شوي دي، د دې سربېره دغه پیاوړي پښتني ولسي خوځښت په دې توانیدلي، څو د پنجاب له لاهوره نیولې، تر کراچۍ، اسلام اباد، کوټې او پېښور پورې سترې ولسي احتجاجي مظاهرې ترسره کړې. له دې ستر پښتني ځوځښت سره په هر ښار او په هره سیمه کې په زرګونه ځوریدلي او کړیدلي پښتانه ځوانان یو ځای شوي دي. دا هغه ځوریدلي ولس دی، کوم چې د پاکستاني ظالم ریاست له خوا ورسره ډېر ناروا سلوک شوي او د یو بې برخلیک ژوند سره مخامخ شوي دي. د دوی مذاحمتي مبارزه به د ظالم او ظلم په ضد همدارنګه جاري وي.

د لومړې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ